ليکوال: سلام خان نېټه ۲۰-۰۱-۲۰۱۱

# که ايران افغانستان ته تيل نه ورکوي
## افغانستان دي اوبه نه ورکوي

ايران پر افغانستان د تېلو د ترانزيت غير رسمي بنديز د دسمبر په لومړيو کې پيل کړ او ويل کېږي چې اوس د ايران په خاوره کې دوه نيم زره ټانکرونه ولاړ دي. د هغو د درېدو له کبله افغان سوداګرو په مليونونو ډالره تاوان کړی دی اوورسره دتيلو او نوروخوراکی توکو بيی په افغانستان کی جګې شوي دي، چی دايران دحکومت دغه غيری قانونی عمل په افغانستان کی د خلګو او ځينو سياسی سازمانونوله ډير سختو غبرګونونو سره مخامخ شو او دمظاهرو او اعتراضونو له لاری يی دايران دغه عمل په کلکه وغندی.

ددغو غبرګونونو له جملی څخه يو ډير جدی غبرګون دايران دحکومت پر وړاندې دقندهار دعاموخلګو او قومی مشرانو غبرګون وو. د کندهار سلګونو قومي مشرانو او مخورو دتيری دوشنبه په ورځ د کندهار د ولايتي شورا په مشري په جوړه شوې غونډه کي له افغان دولته وغوښتل چي سوداګر دي د ايران سره د سوداګريزو معاملو څخه منعه او ايران ته دي د افغانستانه تلونکي او به بندي کړي. هغه غونډه چي پرون په همدي موخه د منډيګك مانی د غونډو په تالار کي جوړه شوي وه د کندهار د ولايتي شورا رئيس او د حامد کرزي ورور احمدولي کرزي، د شورا مرستيال حاجي اغالالي او نورو قومي مشرانو په خپلو ويناوو کي د ايران پر دي کړنه چي افغانستان ته د تيلو د ليږدولو اجازه نه ورکوي او د تيري يوي مياشتي راهيسي يي په سلګونو ټانکر موټرونه درولي دي سخت غبرګون وښود او د ايران دا کار وغانده. احمد ولي کرزي او نورو ويناوالو له افغان سوداګرو څخه وغوښتل چي د ايران سره دي هيڅ سوداګريزي معاملي نه کوي او افغان دولت ته وايو چي نور دي ايران هيواد ته تلونکي او به چي ډيري د هلمند له سينده ځي بندي کړي. د هغوی په وينا چي ايران افغانستان ته تيل نه ورکوي افغانستان دي اوبه نه ورکوي.
دا په داسي حال کي ده چي د کندهار سوداګرو هم د ايران ددي کړني په غبرګون د دي هيواد سره د سوداګريزو معاملو د نه کولو ګواښ کړی دی.

د مشرانو جرګې د شکايتونو اورېدو کميسيون د ايران په کړنو شديد عکس العملونه څرګند کړل او د ايران د سفير وروستئ غوښتنه يې په کلکه وغندله. د دغه کميسيون مشر ډاکتر زلمي زابلي د دوشنبې په ورځ په کابل کې يوې خبري غونډې ته په خبرو کې وويل، چې له افغانستان سره د ايران کړنې له زغمه وتلي دي. نوموړي له خلکو څخه غوښتنه وکړه، چې د ايران په وړاندې خپلو سوله ييزو لاريونونو ته ادامه ورکړي: سفير دا حق نه لري چې د ملت د قانوني حق مخه ونيسي، دغه غوښتنې خو حکومت هم نه دی ورته پوره کړي، نو ملت ولې له خپله غږه منع کوي.
حکومت دا حق نه لري چې ملت ته ووايې تاسې مظاهره مه کوئ، نو موږ نور هم په خپل ملت غږ کوو چې د ايران په وړاندې سوله ييزو مظاهرو ته ادامه ورکړي تر څو د ايران حکومت پردې پوه شي چې د افغانستان ولس ويښ دی او د دوې د پنځو پيسو پروا نه لري چې هغه پيسې هم جمهوري رياست ترلاسه کړي. ده همدا راز وويل، چې ايران د ترانزيت په برخه کې بين المللي حقوق تر پښو لاندې کړي نو افغان حکومت يې هم بايد په وړاندې اقدام وکړي.
د ګلبدين حکمتيار په مشرئ د اسلامي حزب د اروپا له څانګي څخه خپره سوې خبرپاڼه وايي د دوی ګوند د اېران د حکومت هغه اقدام په کلکه غندي چي پر افغانستان يې د نړئ والو نورمونو خلاف د ژمي په سخت يخ کي تېل بند کړي دي.
په خبرپاڼه کي د افغانستان پر حکومت او په ځانګړې توګه د بهرنيو چارو پر وزارت هم نيوکه سوې چي يې د اېران د دې نادودو خلاف يې چوپه خوله نيولې او دا چي په دې هکله يې هيڅ نه دي کړي، دا معنی لري چي د افغان حکومت ځيني چارواکي هم له اېران سره په دې دسيسه کي شريک دي.
دغه خبرپاڼه چي د اسلامي حزب د اروپا د څانګي د مشر قريب الرحمان سعيد له خوا خپره سوې، پکښي راغلي چي افغانستان يو آزاد او خپلواک هيواد دئ او په کابل کي د اېران د سفير هغه څرګندوني هم غندي، چي د وايسرای رول يې لوبولی او د افغانستان له حکومت څخه يې د اېران ضد مظاهره چيانو د نيولو غوښتنه کړې ده.
په خبرپاڼه کي د اېران پر حکومت ږغ سوی چي سمدستي پر افغانستان دغه نا اعلان سوي اقتصادي بنديزونه پای ته ورسوي.
د افغانستان سوداګرو نن ژمنه وکړه چي تر هغو به له ايران سره سوداګري راکړه ورکړه نه کوي چي ايران د افغانستان د سوداګرو د تېلو ټانکرونه نه وي پرې ايښي چي افغانستان ته واوړي، يوه اوونی وړاندی دافغانستان دصنايعو خونی خبر داری ور کړی وو که چيری ايران پر پوله ايسار شوی دتيلو ټانکرونه خوشی نه کړی نود


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغانستان خصوصی برخه به له ایران سره سوداګریزی اړیکی لغوه کړې، په همدی موخه دسه شنبی په ورځ یو شمیر سوداګرو دافغانستان دسوداګری په خونه کی دیو ی غونډی په طرځ کی اعلان وکړی چی له ایران سره خپلی تجارتی را کړی ورکړي دروي.

وروسته له دې چې د افغانستان سوداګرو اعلان وکړ چې د ایراني محصولاتو پر واردولو به بندیز ولګوي او له ایران سره به تجارتي راکړه ورکړه ودروي، ایران نن وویل چې د افغانستان حکومت ته یې خبر ورکړ چې د دغه هیواد د تېلو پر ټانکرونو بندیز به پای ته ورسوي.

په عین حال کی دهمدي فشارو له کبله دسه شنبه په ورځ په کابل کې دایران داسلامي جمهوریت سفیر فدا حسین مالکي دافغانستان داسلامي جمهوریت له جمهور رئیس حامدکرزي سره په کتنه کې اعلام وکړ چې دایران په پولو کې دسون دموادو دټانکرونو ددریدو ستونزه دپای ته رسیدو په حال کې ده، ده دغه راز په دغو خبرو کې وویل چې په تیرو پنځه ویشتو ورځو کې یعني ایران ته دافغانستان داسلامي جمهوریت دجمهوري ریاست دلومړي مرستیال مارشال محمد قسیم فهیم له سفر وروسته تراوسه پورې دوه سوه.

نهه ویشت ټانکرونه چې یو او یا زره پنځه سوه یو ټنه تیل پکې بار و داسلام قلعه، دوغارون، فراه او نیمروز دپولو له لاري افغانستان ته رسیدلي دي چې په دې ترتیب پاتې درول شوي ټانکرونه تر راتلونکو څلورو ورځو پورې دایران له پولو څخه افغانستان ته داخلیږي. مالکي دغه راز په تیرو نهو میاشتو کې دایران له پولي څخه د تیلو واردات ددرې سوه نهه نوي زره اووه سوه څلور شپیتو ټنو معادل اوولس زره پنځه سوه شپږ څلویښت ټانکرونه اعلام کړل. ده وویل چې دافغانستان له خوا دتیلو داړتیا وړ اندازې په ټاکنې سره دایران اسلامي جمهوریت چمتو دی چې هماغه اندازه له کوم ممانعت پرته افغانستان ته د لیږدونې اجازه ورکړي. په دې کتنه کې حامدکرزي ددواړو هیوادونو ترمنځ ددوستي او لرغونو اړیکو په ژور بللو سره وویل چې افغانستان او ایران دزیاتو کلونو په بهیر کې ددوو ورونو، ګډي ژبې او ګډ دین لرونکو هیوادونو په شان له یوبل سره په ښه ګاونډیتوب کې ژوند کړي دي او اوس باید ددواړو هیوادونو لرغونې دوستي د تیلو دڅو ټانکرونو ددرولو په خاطر چې دافغانستان خلک د ژمې په سړو شپو او ورځو کې ورته اړتیا لري زیانمنې نه شي. په دې کتنه کې وپیتل شوه چې دافغانستان دمالیې او اقتصاد د وزیرانو او دسوداګرۍ او صنایعو وزارت دمعین په ګډون یوهیئت ایران ته سفر وکړي. او له دغه هیوادڅخه افغانستان ته د سون دموادو دوارداتو ددوام په خاطر دې دایران داسلامي جمهوریت له مقاماتو سره خبري وکړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ